Download from:aghalibrary.cm



# مرګ اژوند
# په قرآن کي

حکمتیار

## د جلد د انځور شرحه

دا انځور په اصل کی د پیغمبر علیه السلام یو حدیث تشریح کوي چی مطالب ئی دا دی:

- د انسان د ژوند یوه ټاکلې محدوده ده .
- پدې محدودې کي هغه یو په بل پسې، او له یوې خوا بلي خوا د راز راز خطرونو په غشو تهدید کېږي، خو ورنه تېرېږي.
- انسان لدې محدودې نه آخوا د تلو هڅه او تلوسه کوي.
- خو مرگ ئې مخه نیسي.
- سور چوکاټ د ده عمر، سره غشي مرگ، تور غشي گواښونه، د چوکاټ په منځ او بهر کي شین غشي د ده هیلي تمثیلوي.

بسم الله الرحمن الرحیم

## سریزه

د مرګ او ژوند په هکله د انسان تصور او اعتقاد او د ده په کړو وړو باندي د دې اعتقاد اغېز، یوه له هغو مهمو مسائلو څخه ده چي په قرآن کي په ژوره او پراخه توګه څېړل شوې. د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کي به وګورئ چي د مرګ او ژوند په هکله نه یوازي تفصیلي بحث شوی بلکي پدې اړه د انسان د اعتقاد څرنګوالی د ده د ایمان یا کفر نښه ګڼل شوې. د دې آیتونو په رڼا کي به پوه شئ چي یو مسلمان باید مرګ او ژوند

ته په کومه سترګه وګوري او پدې هکله لده نه د ایمان غوښتني څه دي. او د مرګ ژوند په هکله کومه انګېرنه او عقیده ئې د ایمان منافي او د کفر نښه ده.

د قرآن له نظره دا د مرګ ژوند په هکله د انسان عقیده ده چي یا لده نه داسي سرتېری مجاهد جوړ کړي چي له الله نه پرته هیچا ته سر نه ټیټوي او یا یو داسي ډارن او جبون انسان چي د مرګ له وېري هر سپکاوي او ذلت ته غاړه ږدي او د هر طاغوت په وړاندي سر ټیټوي.

زما د ایمان او عقیدی وروڼو او خویندو! آیا ستاسو په ژوند کي کله داسي واقع شوي چي له ډېر خطرناك حالت او سختو ګواښونو سره مخامخ شوي یاست، ژوند مو په خطر کي لوېدلی، له هري ګوښې نه تهدید شوي یئ، دښمن له هري خوا محاصره کړي یاست او هره شیبه مو په مرګ تهدیدوي؟ که په همداسي سخت او له وېري ډك حالت کي ستاسو په زړه کي دا خبره راګرځېدلې وي چي د مرګ پرېکړه د خدای له لوري کېږي، نېټه ئې له مخکي نه ټاکل شوې، نه ئې څوك نېټه بدلولی شي او نه ځای او په زړه کي مو د همدې خبري په راګرځېدو سره د وېري

او خوف حالت په ډاډ او اطمئنان بدل شوی. او که پدې حالت کي تا یا ستا کوم ملګري ته څه تاوان دررسېدلی نو تا ویلي وي چي دا ټول د الله له لوري وو، د خپل رب په پرېکړي راضي یم او خپل تقدیر ته تسلیم، نو دا په قرآن ستاسو د رښتوني ایمان او د مرګ، ژوند او مصیبتونو په هکله ستا د سمي او سالمي عقیدې نښه ده. خو که د دې په ځای په تا کي هومره وېره راولاړه شوې وي چي خدای دي هېر کړی، د مرګ ژوند واك او اختیار دي له الله نه پرته د بل په لاس کي ګڼلی، په مصیبتونو دي هومره ویر کړی چي په الهي تقدیر رضایت او قناعت درنه هېر شوی، ستا عزم ئې سست کړی، ستا جذبات ئې مړاوي کړي او ستا امیدواري ئې په یأس او ناامیدۍ بدله کړې، نو پوه شه چي د مرګ ژوند په هکله ستا عقیده هغه نده چي قرآن ئې غوښتنه کوي او پدې سره تا د قرآن د ټولو هغو لارښوونو خلاف عمل کړی چي په صریح الفاظو او مکرره توګه ئې ستا مخي ته ایښي.

راشی د ځینو دغو آیتونو په وړاندي لږ توقف وکړو او پدې دقیق الهي میزان کي په الله او د ده په کتاب خپل ایمان وتلو او وګورو چي تر ننه موږ د مرګ ژوند په هکله همداسي

فکر کولو چي قرآن ئې غوښتنه کوي او که د دې غوښتني خلاف.

اللهم ارنا الحق حقاً وارزقنا اتباعه
و ارنا الباطل باطلاً و ارزقنا اجتنابه

اللّهُ الّذى خَلَقَكُمْ ثُمّ رَزَقَكُمْ ثُمّ يُمِيتُكمْ ثُمّ يحْيِيكُمْ هَلْ مِن شركائكُم مّن يَفْعَلُ من ذَلكُم مّن شَىْءٍ سبْحَنَهُ وَ تعَلى عَمَّا يُشرِكُونَ*

الروم: ۴٠

الله همغه ذات دى چي تاسو ئې پيدا کړى، بيا ئې روزي درکړه، بيا مو وژني او بيا مو بيرته راژوندي کوي، آيا ستاسو په شريك گرځولو معبودانو کي داسي څوك شته چي لدغو څخه کوم څه وکړى شي؟ پاکي او لوړوالى ده لره دي، د دوى له

ستاسو پيدايښت، رزق، مرگ او ژوند يوائى د خداى له لوري دى پدى کي هيڅوك له خداى سره شريك ندى.

شریکولو نه.

دا مبارك آیت څو مهمو خبرو ته اشاره کوي:

- چا چي تاسو پیدا کړي یاست، هغه الله دی.
- چا چي تاسو ته د رزق او روزي انتظام کړی، له آسمان نه اوبه وروي او له ځمکي نه دانه او مېوه راشنه کوي، هغه الله دی.
- څوك چي ستاسو د مرگ پرېکړه کوي او تاسو د هغه په اذن مرئ، هغه الله دی.
- او څوك چي تاسو بیرته راژوندي کوي، هغه الله دی.
- تاسو په خپله پوهېږی چي پدې څلورو کارونو کي "ستاسو پیدایښت، د روزي انتظام، ستاسو د مرگ پرېکړه او ستاسو بیا راژوندي کولو" کي خدای هیڅ شریك نلري.
- څوك چي لدې څلورو کارونو نه کوم یو له الله نه پرته بل چا ته منسوب کړي، هغه په حقیقت کي د شرك مرتکب شوی او داسي څه ئې بل ته منسوب کړي چي الله لره

مختص دي.

دا آیت پورتنی مطلب لا زيات واضح کوي:

يَأيهَا الّذِينَ ءَامَنُوا لا تَكُونُوا كالّذِينَ كَفَرُوا وَ قَالُوا لاخْوَنِهِمْ إِذَا ضَرَبُوا فى الأَرْضِ أَوْ كانُوا غُزًّى لَّوْ كانُوا عِندَنَا مَا مَاتُوا وَ مَا قُتِلُوا لِيَجْعَلَ اللّهُ ذَلِكَ حَسرَةً فى قُلُوبهِمْ وَ اللّهُ يحْىِ وَ يمِيت وَ اللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ*

آل عمران:۱۵۶

ای مؤمنانو! د هغو په څېر مه کېږئ چي کافران شول او د خپلو ورونو په هکله چي په سفر تللي وو او يا ئې غزا کوله "او هلته يا مړه شوي يا وژل شوي" وايي: که زموږ په خوا کي وی، نه به مړه شوي وو او نه به وژل شوي وو!! تر څو الله دا خبره د دوی په زړونو کي د حسرت لامل وګرځوي، حال دا چي د ژوند مرګ پرېکړه الله کوي او الله د هغه

د مرګ په هکله له کافرانه تصور نه ډډه وکړی پام چي مرګ په غزا او سفر يا بلي طبيعي پيښي پوري ونه تړی

څه ښه لیدونکی دی چې تاسو ئې کوی.

د دې آیت اساسي مطالب دا دي:

- مسلمانان د مرګ او ژوند په هکله له کافرانه تصور نه منع شوي.
- که چا مړینه او وژنه، سفر یا غزا ته منسوب کړه او د وژل شوي او مړ شوي خپلوان په هکله ئې وویل: که زموږ په څنګ کې وی، په غزا کې ئې برخه نه وی اخستې او په سفر نه وی تللي له مړیني او وژني نه به خوندی پاتې شوي وو، د ده دا تصور او اعتقاد کافرانه دی.
- د ژوند مرګ پریکړه یوازي الله کوي.
- دا کافرانه تصور لدې نه پرته بل څه ندی چې په زړونو کې د حسرت باعث شي، پدې سره الله جل شأنه کافران تعذیبوي.
- د انسان کوم کړه وړه چې له همدې کافرانه اعتقاد نه خړوبه کېږي، که هغه له مرګ نه وېره وي، په جهاد کې برخه نه اخستل وي او سنګر ته د خپلوانو له لېږلو نه ډډه کول وي، الله په ټولو خبر دی او ستاسو د ټولو عملونو شاهد او ناظر

دی.

مسلمانان لدې نه هم منع شوي چي د الله د لاري شهيدان يا په خپل زړه کي مړه وګڼي او يا په خپلو ويناوو کي هغوی ته مړه ووايي. لکه چي قرآن وايي:

د الله د لاری شهيدانو ته مړه مه وایاست

وَ لا تَقُولُوا لِمَن يُقْتَلُ فی سَبِيلِ اللّه أَمْوَت بَلْ أَحْيَاءٌ وَ لَكِن لاَ تَشعُرُونَ * البقرة:۱۵۴

او هغه کسانو ته مړه مه واياست چي د خدای په لار کي شهيدان شوي، بلکي دوی ژوندي دي خو تاسو نه پوهېږی.

همداراز لارښوونه کوي چي:

وَ لا تحْسبنّ الّذينَ قُتلُوا فی سبِيلِ اللّه أمْوَتَا بَلْ أحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ * فَرِحِينَ بِمَا ءَاتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْله وَ يَستَبْشِرُونَ بِالّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بهم مّنْ خَلْفهِمْ أَلا خَوْفٌ عَلَيهِمْ وَ لا هُمْ يَحْزَنُونَ * يَستَبْشِرُونَ بنِعْمَةٍ مّنَ اللّهِ وَ فَضلٍ وَ أنّ اللّهَ لا يُضِيعُ أَجْرَ

الْمُؤْمِنِينَ* آل عمران:۱۲۹ - ۱۷۱

او هغه کسان چي د خدای په لار کي شهیدان شوي، مړه مه ګڼی، دوی ژوندي دي او د الله په خوا کي ورته روزي ورکول کېږي. الله چي له خپل فضل نه څه د دوی په برخه کړي، په هغه خوشحالي کوي او د هغو کسانو لپاره هم چي لاتراوسه لدوی سره ندی یوځای شوي او د دوی تر شا دي، پدې خاطر خوشحالي کوي چي نه به پدوی څه وېره وي او نه به غمجن شي* د الله په نعمتونو او فضل به خوشحالي کوي او پدې هم چي الله د مؤمنانو اجر نه ضایع کوي.

د الله د لاری شهیدان مړه مه ګڼی

د دې آیتونو اساسي مطالب دا دي:

- د الله د لاري شهیدان مړه مه ګڼی.
- د الله د لاري شهیدانو ته مړه مه وایاست.
- دوی ژوندي دي خو تاسو د دوی د ژوند په څرنګوالي نه پوهېږی.

- دوی نه یوازي ژوندي دي بلکي الله ورته په خپلي خوا کي روزي هم ورکوي.
- دوی په خپل وضعیت او د الله جل شأنه په هغه فضل چي د دوی په برخه شوی راضي او خوشحاله دي.
- د خپلو هغو ملگرو د مستقبل په هکله هم خوشحالي کوي چي لاتراوسه لدوی سره ندي یو ځای شوي، پدې خاطر چي گوري د ایمان په لار کي نه وېره شته او نه غمجن کېدل.
- د خدای په نعمتونو، فضل او پدې چي الله د مؤمنانو اجر نه ضایع کوي، خوشحالي کوي.

له مرگه نه وېرېدل او د الله په لاري کي د شهادت تلوسه، د ایمان نښه گڼل شوې او د پیغمبر علیه السلام ټولو صحابه وو ته په خطاب کي ویل شوي چي تاسو ټولو د شهادت تمنا کوله:

| شهادت د پیغمبر او صحابه وو تمنا | وَ لَقَدْ كُنتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِن قَبْلِ أن تَلْقَوْهُ فَقَدْ رَأَيْتُمُوهُ وَ أَنتُمْ تَنظُرُونَ * آل عمران:۱۴۳<br>او یقیناً چي تاسو لدې نه مخکي چي له مرگ سره مخامخ شی د هغه تمنا مو کوله، نو دا دی ومو لیدو پداسي حال کي چي ورته کتل مو |
|---|---|

په دې مبارك آيت كي څو مهمي خبري توجه غواړي:

- صحابه وو د شهادت تلوسه درلوده.
- د احد په جگړي كي ئې د دې د تمنا د تر سره كېدو فرصت ترلاسه كړ.
- د دې صحنې د نظارې په ځاى بايد له هغى نه د خپل آرمان د ترسره كېدو په اړه استفاده شوې وى.

يهودو ته وايي: كه تاسو په رښتيا په آخرت ايمان درلودى او له الله سره مو مينه وى نو له مرگ نه به نه وېرېدى او د اوږده ژوند تمنا به مو نه كوله:

| | |
|---|---|
| قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الآخِرَةُ عِندَ اللّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ * وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ وَاللّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمينَ * وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَى حَيَاةٍ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُواْ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ وَاللّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ * البقرة: ۹۴-۹۶ | د شهادت عدم تمنا د يهودانو نښه |

له مرگ نه وېره په آخرت د عدم ایمان نښه ده او له الله سره د مینې ادعاء تکذیبوي

ورته ووایه: که د آخرت کور، د خدای په وړاندي، له خلکو نه پرته یوازي ستاسو لپاره وي نو د مرگ تمنا وکړی که رښتوني یاست. او په خپلو لاسونو ئې چې څه وړاندي کړي د هغه په وجه به هیڅکله د مرگ تمنا ونکړي او الله په ظالمانو ښه پوه دی. او دوی به تر ټولو زیات په ژوند حریص ومومې او له مشرکانو نه هم، هر یو ئې دا خوښوي چې کاش زر کاله عمر ورکړی شي، خو همدا د عمر اوږدوالی له عذاب نه د دوی ژغورونکی ندی او خدای د دوی د عملونو ډېر ښه لیدونکی دی.

دا مبارك آیتونه چې د یهودانو د ایمان دعوی پدې دلیل دروغجنه گڼي چې پدوی کي د شهادت تلوسه مړه شوې او هر یو ئې د مشرکانو په څېر د اوږده ژوند تمنا لري، څو اساسي خبرو ته اشاره کوي:

- یهودانو به ویل چې خدای جنت یوازي زموږ لپاره پیدا کړی!! په ټولو خلکو کي به یوازي یهودان جنت ته درومي،

د نورو ځای دوزخ دی او د دوزخ لپاره پیدا شوي.

- که دوی په خپلې دعوی کې رښتوني وی نو له مرگ نه به نه وېرېدل، د شهادت تمنا به ئې په زړونو کې نه ختمېده.
- د دوی مخکنې بد عملونه د دې باعث شوي چې له مرگ او د الله په لار کې له شهادت نه وېره ئې په زړونو کې راپیدا شي.
- دوی پدې اړه د مشرکانو په څېر دي او تر هغوی هم زیات د اوږده ژوند غوښتونکي او له مرگ نه وېرېدونکي دي.
- دا اوږد عمر دوی د خدای له عذاب نه نشي ژغورلی؟!
- الله د دوی د ټولو کړو وړو شاهد دی، ښه پوهېږي چې دوی څه کوي او ولې ئې کوي؟

په همدې ارتباط په بل ځای کې راځي:

| | |
|---|---|
| څوك له مرگه تښتي؟ | قُلْ يَأَيها الّذينَ هَادُوا إن زَعَمْتُمْ أنّكُمْ أوْلِيَاءُ للّه من دُونِ النّاسِ فَتَمَنّوُا الْمَوْتَ إن كُنتُمْ صدقِينَ * وَ لا يَتَمَنّوْنَهُ أبَدَا بِمَا قَدّمَت أيْدِيهِمْ وَ اللّهُ عَلِيمُ بِالظلِمِينَ * قُلْ إنّ الْمَوْتَ الّذِى تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإنّهُ |

مُلَقيكمْ ثُمّ تُرَدُّونَ إِلى عَلِمِ الْغَيْبِ وَ الشهَدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ*

الجمعة:۶-۸

ورته ووایه: ای هغو کسانو چي یهودان شوي! که گمان کوی چي فقط تاسو د خدای دوستان یاست، له خلکو پرته، نو د مرگ تمنا وکړی که صادق یاست. د خپلو مخکنیو عملونو په وجه به ئې هیڅکله تمنا ونکړي، خدای دا ظالمان ډېر ښه پیژني. ورته ووایه: هغه مرگ چي تاسو ترې تښتی هرو مرو به تاسو بیامومي، بیا به په غیب او څرگند پوه ذات په لوري گرځول کېږی، نو تاسو به په خپلو کړو خبر کړي.

له مرگه تېښته څوك له مرگه نشي ژغورلی

په دې آیتونو کي څو خبري د زیات پام وړ دي:

- یهودانو به ویل: په ټولو انسانانو کي فقط موږ د خدای دوستان یو، د خدای نازولي ټول په موږ کي راپیدا شوي اولیاء او پیغمبران زموږ په قوم کي راپیدا شوي، نو خود به یوازي موږ جنت ته درومو.

- ü که دا خبره رښتیا وی او تاسو له خدای سره مینه درلودی او د الله له اولیاوو او پیغمبرانو سره مو تعلق وی، نو له مرگ نه به نه وېرېدی او د الله د نیکو او صالح بندگانو په څېر به د الله په لار کي قرباني ته چمتو وی!!
- ü تاسو داسي عملونه کړي چي د هغو په وجه هیڅکله د جنت طمع نشي کېدی، ستاسو همدا عملونه له مرگ نه د وېري لاملونه دي.
- ü خدای ظالمان پېژني او پدې ښه پوهېږي چي د ظلمونو په سبب ئې زړونه تور شوي او له ژوند سره افراطي مینه او له مرگ نه افراطي وېره ئې زړونو ته ننوتې.
- ü له کوم مرگ نه چي تاسو وېره لری او د همدې په وجه د الله په لار کي له جهاد نه ډډه کوی، هغه به ستاسو ملاقات ته خامخا راځي، نه په تېښته له هغه خلاصېدی شی او نه په هغه بې غیرتۍ چي د تدبیر نوم ورکوی.
- ü بیا به د هغه رب په لور درومی چي په "غائب او شاهد" پوه دی، نه ستا د زړه پټي خبري او وسوسې ترې پټې دي او نه ستا څرگند کړه او په ډېر تکلف جوړي شوې مزيني خبري او

غولوونکي دلائل.

ü د قیامت په ورځ به الله جل شأنه ستا ټول عملونه ستا مخي ته کښېږدي.

د ایمان د خاوندانو په وړاندي د مرگ او ژوند په هکله د ابراهیم علیه السلام باور مخي ته ږدي او فرمایي:

مرگ ژوند د شپې ورځي په څېر وګڼی

أَلَمْ تَرَ إِلى الَّذى حَاجَّ إِبْرَهِيمَ فى رَبِّهِ أَنْ ءَاتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَهِيمُ رَبىَ الَّذى يُحْىِ وَ يُمِيت قَالَ أَنَا أُحْىِ وَ أُمِيت قَالَ إِبْرَهِيمُ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتى بِالشمْسِ منَ الْمَشرِقِ فَأْت بهَا منَ الْمَغْرِبِ فَبُهِت الَّذى كَفَرَ وَ اللَّهُ لا يهْدِى الْقَوْمَ الظلِمِينَ * البقرة: ۲۵۸

د مرگ ژوند په هکله د ابراهیم علیه السلام او نمرود اعتقاد او نظر

هغه څوك دي ونه لید چي له ابراهیم سره ئې پدې خاطر محاجه کوله چي الله ورته پاچایي ورکړې وه، کله چي ابراهیم وویل: زما رب هغه ذات دی چي ژوندي کول او وژل کوي. وئې ویل: زه یم چي د ژوند مرگ فیصله کوم!! ابراهیم وویل: الله خو لمر له مشرقه راخیژوي ته ئې له مغربه راوله که رښتونی یې، نو هغه چي کافر شوی وو، مبهوت

او حیران شو" څه ئې د ویلو لپاره نه موندل" او الله ظالمان نه هدایت کوي.

دا مبارك آیت څو مهمې خبرې زموږ مخې ته ږدي:

- ابراهیم علیه السلام دا خبره چې د مرگ ژوند واك زما د رب په لاس کې دی، د هغه چا په وړاندې کړې چې اقتدار مغرور کړی وو، ځان ئې د خلکو د مرگ ژوند واکدار گڼلو، ابراهیم علیه السلام ئې بندی کړی وو او د هغه د وژلو او په ستر اور کې د سوزولو فیصله ئې کړې وه. د ابراهیم علیه السلام د دې وینا په اهمیت هلته پوهېدی شو چې دا حالت په نظر کې ونیسو. په عادی حالت کې د دې خبرې کول یوه معنی لري خو پداسې حالت کې بیله معنی لري چې د چا د وژلو او په اور کې د سوزلو فیصله دې یوه مغرور او بې رحمه واکمن کړې وي، د ده د سوزلو لپاره دې ستر اور بل شوی وي، ټول ولس دې د ده په سوزولو اتفاق کړی وي او د دې مقصد لپاره دې ستر اور بل کړی شوی او په اور کې د ده د اچولو لپاره دې منجنیق تیار شوی وي او ټول ولس دې د تماشا لپاره راغونډ شوی وي!! هغه دې دا هرڅه په خپلو

سترګو ګوري او سره لدې دي ووايي: د مرګ ژوند پرېکړه خو زما رب کوي!!

- مغرور واکدار د ده په ځواب کي وايي: د خلکو د مرګ ژوند واك خو له ما سره دی، دا دی په خپلو سترګو وګوره چي له دوو بنديانو څخه يو چي د خلاصولو مستحق دی په مرګ محکوموم او بل چي د وژلو مستحق دی خوشي کوم!!
- ابراهيم عليه السلام په ځواب کي وايي: زما رب خو هغه ذات دی چي لمر له ختيځه راخيژوي، ته ئې له لوېديځه راوخيژوه که رښتونی يې!! يعنی لکه څنګه چي شپه ورځ د الله په اراده ځي راځي او لمر د ده په اراده له خپله ځايه راخيژی او په خپل ځای کي پرېوزی او د نړۍ هيڅ ځواك نه د هغه د تلو راتلو وخت بدلولی شي او نه ئې ځای، همداسي د مرګ او ژوند پرېکړه هم يوازي د الله له لوري کېږي او پدې کار کي هم د نړۍ هيڅ ځواك هيڅ برخه نلري.
- ظالمان له الهي لارښوونو نه محروم او د حقيقت له درك نه عاجز دي، ظلم د دوی زړونه کاږه او عقل مختل کړی. د مرګ ژوند په هکله د دوی باورونه د کږو زړونو او مختل

عقل زېږنده دي.

قرآن وايي چي د مرګ لپاره ثابته نېټه ټاکل شوې چي هيڅوك ئې نشي بدلولی:

مرګ په خپل وخت او د الله له اذن نه وروسته راځي

وَ مَا كانَ لِنَفْسٍ أن تَمُوت إلا بِإذْنِ اللّه كتَباً مُّؤَجّلاً وَ مَن يُرِدْ ثَوَاب الدُّنْيَا نُؤْتِه منهَا وَ مَن يُرِدْ ثَوَاب الاَخِرَةِ نُؤْتِه مِنهَا وَ سَنَجْزِى الشكرِينَ* آل عمران:۱۴۵

هيڅ نفس لره نه ښايي چي ومري مګر د الله په اذن سره، په ليکل شوې ټاکلې نېټې او څوك چي د دنيا اجر غواړی له همدې نه ئې برخه ورکوو او څوك چي د آخرت اجر غواړی له هغه نه ئې برخه ورکوو او ډېر ژر به شکر کوونکو ته غوره بدله ورکړو.

په دې مبارك آيت کي د لاندي سترو سترو خبرو لارښوونه شوې:

- د هرچا د مړيني لپاره معينه نېټه ټاکل شوې.

- دا خاصه نېټه په خاص کتاب کي ليکل شوې. پداسي کتاب کي چي په هغه کي هيڅ تبديلي نشي راتلی.
- مرگ په همدې ټاکل شوې ليکلې نېټې د الله له اذن او اجازې نه وروسته راځي.
- څوك چي د خپلو عملونو دنيائی بدله غواړی نو الله له هغه نه څه ورکړي او څوك چي د اخروي بدلې په لټه کي وي نو الله ئې له هغه نه ورکړي.
- د خدای شاکر بندگان به ډېر ژر خپل اجر ترلاسه کړي، نه د دوی دنيائي اجر ضايع کېږي او نه اخروي.

د انسان روح د الله په امر د خاصو مأمور شوو فرشتو په ذريعه قبض کېږي،دا فرشتې د الله اوامر د هيڅ تغيير او ځنډ نه پرته ترسره کوي:

روح څنگه قبض کېږي؟

وَ هُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ وَ يُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً حَتى إِذَا جَاءَ أَحَدَكُمُ الْمَوْت تَوَفَّتْهُ رُسلُنَا وَ هُمْ لا يُفَرِّطُونَ*

الانعام: ۶۱

د انسان روح د الله په امر د خاصو مأمور شوو فرشتو په ذریعه قبض کیږي

او هغه په خپلو بندګانو مسلط دی، په تاسو باندي ساتونکي رالیږي، تر هغه چي د چا مرګ ورته راورسیږي، نو زموږ استاځي ئې روح قبض کړي پداسي حال کي چي تېری نکوي.

قُلْ يَتَوَفَّاكُم مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِى وُكِلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلى رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ* السجده:۱۱

ورته ووایه: هغه فرشتې ستاسو روح قبض کوي چي په تاسو باندي ګمارل شوې، بیا د خپل رب په لوري ګرځول کېږی.

په دې مبارکو آیتونو کي دا لارښووني ګورو:

- د الله ټول بندګان د ده د سلطې په وړاندي مقهور او محکوم دي.
- ستاسو د حفاظت او ساتني بند و بست ئې کړی، له خپلي خوا ئې ستاسي لپاره ساتونکي موظف کړي.
- دا ساتونکي د مرګ تر ثابتي نېټې ستاسو ساتنه کوي او د دې نېټې په رارسېدو سره ټاکلې فرشتې ستاسو روح قبض کوي.

- نه دا ساتونکې فرښتې او نه د روح اخستونکې په خپل الهي مأموريت کې هيڅ ډول کمی زياتی او افراط تفريط نه کوي.

چې هر نفس هرومرو او په خپلې ثابتې نېټې د مرگ خوند څکي نو د الله په لار کې له مرگ نه وېره د څه لپاره؟

مبادا د مرگ له وېرې د الله له بندگۍ نه لاس واخلې، هسې هم هر نفس د مرگ خوند څکي، او د الله په لورې درومي

يَعِبَادِىَ الَّذِينَ ءَامَنُوا إِنَّ أَرْضِى وَسِعَةٌ فَإِيَّىَ فَاعْبُدُونِ * كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ * وَ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَ عَمِلُوا الصلِحَت لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ الجَنَّة غُرَفاً تجْرِى مِن تحْتِهَا الْأَنْهَرُ خَلِدِينَ فِيهَا نِعْمَ أَجْرُ الْعَمِلِينَ * الَّذِينَ صبرُوا وَ عَلَى رَبهِمْ يَتَوَكلُونَ * العنکبوت: ۵۲-۵۹

ای زما باايمانه بندگانو! زما ځمکه پراخه ده، نو يوازې زما عبادت وکړی، هر نفس د مرگ د خوند څکونکی دی، بيا زما په لور راگرځول کېږی او هغه چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، هرو مرو به ئې د جنت پداسې خونو کې ځای په ځای کړو چې ترې لاندې وياله بهېږي، په

هغه کې تلپاته، څومره غوره دی د هغو عمل کوونکوا جر چې صبر ئې وکړ او په خپل رب توکل کوي.

همدا راز وايي:

د آخرت په پرتله خو د دنیا دا ژوند له غولوونکې متاع پرته بل څه ندی

كلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ المَوْتِ وَ إِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيمَةِ فَمَن زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَ مَا الْحَيَوةُ الدُّنْيَا إِلا مَتَعُ الْغُرُورِ *

البقرة:**۱۸۵**

هر نفس د مرگ د خوند څکونکی دی او خبره دا ده بله نده چې د قیامت په ورځ به خپل اجر په کامله توگه ترلاسه کوئ، نو څوك چې له اور نه وژغورل شو او جنت ته ننووت، بې شکه چې بریالی شو او د دنیا دا ژوند خو له غولوونکې متاع نه پرته بل څه ندی.

دا مبارك آیتونه څو مهمې خبرې مونږ ته ښیي:

- که په خپل ټاټوبي کې له داسې حالت سره مخامخ شوې چې د یوه آزاد بنده په څېر دې د الله عبادت نشو کولی او ستا د هیواد واگې د داسې ځواکونو په لاس کې وي چې تا د الله

بندګي ته نه پرېږدي، نو د دين په ځای ملك پرېږده او د الله په لار کي هجرت وکړه، د خدای ځمکه پراخه ده، داسي ځای ته ولاړ شه چي په ډاډه زړه د خپل رب عبادت وکړی شي.

- او که د مرګ ګوابن درته وشو، نوصبر وکړه، له مرګ نه هسي هم چاره نشته، هر نفس خامخا د مرګ خوند څکي.
- که د خدای په لار کي دي د ختهو کور له لاسه ورکړ، الله به ئې په عوض کي د جنت بنګلې درکړي، داسي دنګي دنګي بنګلې چي د ونو او ماڼيو لاندي ئې ويالې بهېږي.
- که د څو ورځو دنيايي ژوند دې له لاسه ورکړ نو الله به د جنت تلپاتې ژوند درکړي.
- د عمل کوونکو اجر تر دې هم زيات غوره دی.
- خو هغه عمل کوونکي چي دا غوره اجر به ترلاسه کوي هغه کسان دي چي صبر لري او په خپل رب توکل کوي. مبادا د بې صبري او له الله نه پرته په بل چا او بل څه د اعتماد په نتيجه کي لدې غوره اجر نه محروم شې.

- ستا اجر هیڅکله نه ضایع کېږي، ستا معامله له هغه خدای سره ده چي د عملونو پوره او کامله بدله ئې په خپله ذمه اخستې ده.
- د همدې نیکو عملونو په نتیجه کي له دوزخ نه ژغورل کېږی، اصلي بریا خو دا ده چي څوك له دوزخ نه وژغورل شي او جنت ئې په برخه شي.
- دا دنیوي ژوند خو د آخرت په پرتله هسي یوه غولوونکې متاع ده. داسي نه چي دا متاع دي له آخرت نه غافل کړي!!

که ته د الله په لار روان وې او په دې لار کي ومرې یا ووژل شې نو الله به ستا ګناهونه درته وبخښي او خپله پیرزوینه به ستا په حال شامله کړي، دا تر هغه څه نه چي نور ئې د ژوندي پاتې کېدو په صورت کي ترلاسه کوې ډېر ډېر غوره دي.

د الله په لار کي شهادت د دنیا تر هر څه غوره دی

وَ لَئِن قُتِلْتُمْ فِى سَبِيلِ اللّهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّهِ وَ رَحْمَةٌ خَيرٌ مِّمَّا يجْمَعُونَ * وَ لَئِن مُّتُّمْ أَوْ قُتِلْتُمْ لَالَى اللّهِ تحْشَرُونَ * آل عمران:۱۵۷-۱۵۸

او که د الله په لار کي ووژل شی یا ومری نو د الله بخښنه او پیرزوینه تر هغه څه چي نور ئې ترلاسه

کوي ډېره غوره دي.

همدا راز فرمايي:

| |
|---|
| د الله په لار کې د هجرت او شهادت په نتيجه کې هم خپله دنيوي غوره برخه ترلاسه کوی او هم غوره الهی اجر |

وَ مَن يهَاجِرْ فِى سبِيلِ اللّه يجِدْ فِى الأَرْضِ مُرَغَماً كَثِيراً وَ سعَةً وَ مَن يخْرُجْ مِن بَيْتِه مُهَاجِراً إِلى اللّهِ وَ رَسولِه ثُمّ يُدْرِكْهُ الْمَوْت فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ عَلى اللّهِ وَ كانَ اللّهُ غَفُوراً رّحِيماً *

النساء: ۱۰۰

او څوك چي د الله په لار کي هجرت وکړي، په ځمکي کي به ډېر ځرځايونه او پراخي ومومي او ځوك چي له خپل کور نه د الله او د ده د رسول لوري ته د مهاجر په څېر ووځي او مرگ ئې بيا وموومي نو په يقين سره ئې اجر د الله په ذمه شو او خدای خو بخښونکی او مهربان دی.

همدا راز فرمايي:

| |
|---|
| د رزق او روزي ضمانت |

وَ الّذِينَ هَاجَرُوا فى سبِيلِ اللّه ثُمّ قُتِلُوا أَوْ مَاتُوا لَيرْزُقَنّهُمُ اللّهُ رِزْقاً حَسناً وَ إِنّ اللّهَ لَهُوَ خَيرُ الرّزِقِينَ * الحج: ۵۸

الله د مهاجر او مجاهد د رزق ضامن دی

او هغه چي د خدای په لار کي ئې هجرت وکړ، بیا یا ووژل شول یا مړه شول، خدای به حتماً غوره رزق ورکړي او یقیناً چي الله تر هرچا غوره رزق ورکوونکی دی.

دا مبارك آیتونه موږ ته وايي:

- داسي گمان مه کوه چي که د الله په لار کي هجرت وکړې، کور، کلی او پټی پرېږدې، نو د الله په ټولي پراخي ځمکي کي به نه د پناه ځای پیدا کړې او نه د معیشت وسیله، داسي نه ده، د الله ځمکه پراخه ده، چي عادي بندگانو ته رزق او روزي ورکوي د خپلي لاري له مجاهدینو نه به ئې څنگه سپموي!! پدې دي باید پوخ باور وي چي د هجرت په صورت کي به له پراخي او کثرت سره مخامخ کېږې نه له تنگسې او قلت سره.
- الله د هغه خلکو لپاره د غوره رزق ذمه وار دی چي د خدای په لار کي هجرت کوي او شهیدان ورکوي.
- که د الله او د هغه د رسول په لوري وخوځېدې او په مرگ واوښتې نو الله ستا اجر په خپله ذمه اخلي، مگر دا درته

کفایت نکوي؟

- د هجرت او د هجرت په دوران کي د مړيني په صورت کي غفور او رحیم خدای به ستا گناهونه درته وبخښي او خپلي پیرزویني به ستا په حال شاملي کړي.
- هغه ولس چي د الله په لار کي هجرت ته اړ شي او له مرگ ژوبلي سره مخامخ شي، الله جل شأنه به د رحمت او پیرزویني لاس د دوی په سر راکاږی.

او څوك چي د مرگ له وېري دښمن ته شا کوي، خپل کور کلی دښمن ته پرېږدي، د تېښتي لار غوره کوي پداسي حال کي چي د مقابلې توان لري او شمېر ئې هومره دی چي د دښمن په خلاف ډېر څه کولی شي، نو الله به ئې له سپك او له ذلت نه ډك مرگ سره مخامخ کوي:

څوك د ذلت په مرگ محکوم شوی؟

أَلَمْ تَرَ إِلى الَّذينَ خَرَجُوا من دِيَرِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللّهُ مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَهُمْ إِنَّ اللّهَ لَذُو فَضلٍ عَلى النّاسِ وَلَكِنّ أكثرَ النّاسِ لا يَشكرُونَ * البقرة:۲۴۳

آیا هغو کسانو ته دي ونه کتل چي له خپلو

هغه چی د مرگ له ویری ئې خپل ټاټوبی دښمن ته

کورونو نه د مرگ له وېرې ووتل، پداسې حال کې چې په زرهاوو وو، نو الله ورته وویل: ومرئ، بیا ئې بیرته راژوندي کړل، یقیناً چې خدای په خلکو د فضل خاوند دې خو اکثر خلك شکر نکوي.

دا آیت څو لارښوونې کوي:

- څوك چې له مرگ نه وېرېدلی او د همدې وېرې په وجه ئې دښمن ته شا کړې او خپل کور کلی ئې هغه ته پرېښی، نو په مرگ محکوم شوي.
- داسې تېښته شاید له محدودو کسانو او له یوه واړه ټولگې نه د توجیه وړ وي، خو له یوه ولس او له داسې ډلې نه چې شمېر ئې زرهاوو ته رسېږي په هیڅصورت د منلو ندی.
- خدای جل شأنه په خپلو بندگانو د فضل خاوند دې، د همدې فضل په وجه پداسې حالت کې دوی ته بیا مهلت ورکوي چې د دائمي مرگ مستحق وي.
- خو خلك د دې په ځای چې د الله د پیرزوینو قدر وکړي د ناشکرې لار غوره کوي.

قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي د څو مهمو پرېکړو اصلي او يوازنی واکدار به الله جل شأنه گڼی:

قُلِ اللّهُمّ مَلك الْمُلْك تُؤْتى الْمُلْك مَن تَشاءُ وَ تَنزِعُ الْمُلْك ممّن تَشاءُ وَ تُعزُّ مَن تَشاءُ وَ تُذلُّ مَن تَشاءُ بِيَدك الْخَيرُ إنّك عَلى كلِّ شىْءٍ قَديرٌ * تُولِجُ الّيْلَ فى النّهَارِ وَ تُولِجُ النّهَارَ فى الّيْلِ وَ تُخْرِجُ الْحَىّ منَ الْمَيّت وَ تُخْرِجُ الْمَيّت مِنَ الْحَىّ وَ تَرْزُقُ مَن تَشاءُ بِغَيرِ حِسابٍ * آل عمران: ۲۶-۲۷

ووايه: ای باري ربه! د واکمنۍ واکداره! دا ته يی چي چا ته وغواړې واکمني ورکوي او له چا نه چي وغواړې د واکمنۍ " جامه" بېرته باسي، چي چا ته وغواړی عزت ورکوي او چي څوك وغواړی سپکوي يی، ښيگڼه ټوله ستا په لاس کي ده، بې شکه چي ته په هر څه قادر ئې، شپه په ورځ کي ننباسي او ورځ په شپې کي داخلوي، ژوندی له مړي راباسي او مړی له ژوندي نه راباسي او چي چا ته وغواړی بې حسابه روزي ورکوي.

الله د واك، عزت، ذلت، مرگ، ژوند او رزق اصلي واکمن دی.

يوازنی ټولواك الله دی چي د واك، عزت، ذلت، مرگ، ژوند او رزق پرېکړی کوي

د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- ü په هر حالت کې به ستا باور دا وي چې د واکمنۍ اصلي او یوازنی واکدار الله دی.
- ü دا پرېکړه د الله له لوري صادره کېږي چې چا ته څومره او څنګه واکمني ورکړي.
- ü دا پرېکړه الله کوي چې د چا د واکمنۍ کرسۍ څنګه او کله نسکوره کړي.
- ü د عزت ورکړه د الله له لوري ګڼه، پام چې له الله نه پرته له بل چا نه عزت ته د رسېدو طمع ونکړې. مبادا اقتدار ترلاسه کول د عزت نښه وګڼې، ډېر د اقتدار خاوندان سخت ذلیل او سپك دي.
- ü د چا د ذلت او سپکاوي پرېکړه هم الله کوي، په خپل عزت له الله نه پرته له بل چا مه وېرېږه. هغه څوك ذلیل ګڼه چې د خدای په وړاندې ذلیل وي، مبادا ناداري او ناتواني د ذلت نښه وګڼې، ډېر په خړو جامو کې د خدای په وړاندې هومره عزت لري چې د پرېړو غاړو، جګو شملو او دنګو بنګلو

خاوندان ئې د ښځو له خاورو سره برابر ندي.

ü د الله هره پرېکړه حکیمانه ده، په هري فیصلې کي ئې خیر مضمر دی، خیر او ښېګڼه د خدای په خوا کي او د ده په لار کي لټوه، نه د بل چا په لاس کي او په نورو لارو کي.

ü دا باور دي هیڅکله او په هیڅ حالت کي متزلزل نشي چي الله په هر څه قادر دی، ناتوانه او ضعیفو کسانو ته د ټولني واکمني ورکولی شي او د زر او زور خاوندانو تخت او تاج نسکورولی شي، نه د چا زور او ځواك د ده فیصلې بدلولی شي او نه د چا ضعف او ناتواني د ده پرېکړي ځنډولی شي.

ü لکه څنګه چي شپه او ورځ د الله په اراده او د یوه ستر حکمت له مخي ځي راځي او پدې کار کي له خدای نه پرته د عالم هیڅ ځواك، هیڅ ډول دخالت نشي کولی، نه شپه رالنډولی شي او نه ورځ اوږدولی شي، همداراز د مرګ ژوند، عزت او ذلت پرېکړه او د واکمني سپارل او بیرته اخستل هم فقط د الله په اراده، د خاصو سننو مطابق او د خاصو مصلحتونو له مخي ترسره کېږي.

ü د رزق او روزي په هکله د الله سنت دا ندی چي چا ته د ده د

وړتیاوو او استحقاق له مخي رزق او روزي ورکړي، بلکي پدې هکله ئې سنت دا دی چي خپلو بندگانو ته که کافر وي که مسلمان، که صالح وي که طالح، له حسابه پرته روزي ورکوي، که ئې چا ته رزق د محاسبې له مخي او له هغه نه وروسته ورکولی چي خپله وړتیا ثابته کړي نو له کافر، عاصی او باغی بنده نه به ئې هر څه سپمولي وو، له عادی اوبو نه به ئې هم محروم کړي وو. مبادا د هغه چا په هکله چي د رزق او روزي ترلاسه کولو لپاره ئې حرامي لاري غوره کړي او د ظلم، تېری، خیانت او نورو حرامو لارو نه ئې ډېر څه ترلاسه کړي، دا گمان وکړې چي خدای ته نازولي دي او د خاصو وړتیاوو په وجه ئې دا هر څه ورکړي!! مبادا بډای د عزت خاوند وگڼې او نیستمن سپك او ذلیل، ډېر مالداران د الله او خلکو په نزد ډېر سپك او ذلیل دي او ډېر نیستمن او نادار خلك د الله په وړاندي د ستر عزت خاوندان دي.

په لاندنیو مبارکو آیتونو کي له مرگ نه وېرېدونکي کسان په ډېره دقیقه توگه انځور شوي:

أ لَمْ تَرَ إِلى الّذِينَ قِيلَ لهُمْ كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ وَ أَقِيمُوا الصلَوةَ وَ ءَاتُوا

الزَّكَوةَ فَلَمَّا كُتب عَلَيهمُ الْقتَالُ إذَا فَريقٌ مّنهُمْ يخْشوْنَ النَّاس كَخَشيَةِ اللّه أوْ أشدَّ خَشيَةً وَ قَالُوا رَبَّنَا لمَ كَتَبْت عَلَيْنَا الْقتَالَ لَوْ لا أخّرْتَنَا إلى أجَلٍ قَريبٍ قُلْ مَتَعُ الدُّنْيَا قَلَيلٌ وَ الاَخرَةُ خَيرٌ لِّمَن اتّقَى وَ لا تُظْلَمُونَ فَتيلاً * أيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرككُّمُ الْمَوْت وَ لَوْ كُنتُمْ فى بُرُوجٍ مُّشيّدَةٍ وَ إن تُصبْهُمْ حَسنَةٌ يَقُولُوا هَذه منْ عند اللّه وَ إن تُصبْهُمْ سيِّئَةٌ يَقُولُوا هَذه منْ عندَك قُلْ كلٌّ مّنْ عند اللّه فَمَا ل هَؤُلاء الْقَوْمِ لا يَكادُونَ يفْقَهُونَ حَديثاً * مَا أصابَك منْ حَسنَةٍ فَمنَ اللّه وَ مَا أصابَك من سيِّئَةٍ فَمن نّفْسك وَ أرْسلْنَك للنّاسِ رَسولاً وَ كَفَى بِاللّه شهيداً *

النساء: ۷۷- ۷۹

له دنيا سره افراطي مينه مو له مرگ نه ويروي هره ښيگڼه د الله پيرزوينه ده، هر کړاو او ستونزه ستا د بد عمل او گناه نتيجه ده

هغو ته دي ونه کتل چي ورته وويل شو: لاسونه مو راتم کړی او لمونځ وکړی او زکات ورکړی، خو چي کله پدوی جهاد فرض کړی شو نو يوه ډله ئي له خلکو نه داسي وېرېده لکه له خدای نه او يا تر دي هم سخته وېره او ويل ئې: ای زمونږ ربه! ولې دي په مونږ جنگېدل فرض کړ؟ ولې دي تر

یوې نړدې نېټې ونه ځنډولو؟ ورته ووایه: د دنیا متاع خو وړوکی شی دی او آخرت غوره دی، د هغه لپاره چې تقوا ئې غوره کړه او د بځرکي په اندازه به په تاسو تېری ونشي. چې هرځای وی مرګ به مو بیا مومي، که څه هم په دنګو کلکو ماڼیو کې وی او چې ښیګڼه ئې په برخه شي نو وایي: دا خو د خدای له لوري ده، خو که کړاو ئې په برخه شي نو وایي: دا خو له تا څخه دي، ورته ووایه: ټول د خدای له لوري دي، پدې خلکو څه شوي چې په هیڅ خبري نه پوهېږي، له ښیګڼې چې څه ستا په برخه شي نو د خدای له لوري ده او چې کړاو او ستونزه درورسېږي نو هغه په خپله ستا لخوا ده، ته خو مو خلکو لره یو استائی لېږلی یې او الله د شاهد په حیث کافي دی.

د ښه او بد، خیر او شر، ګټې او تاوان پرېکړه د الله له لوري کیږي.

په دې مبارکو آیتونو کې لاندي لارښووني زموږ مخې ته ایښودل شوې:

- ځیني خلك داسي وي چي له دښمن سره د جګړو له

رارسېدو نه د مخه د ځان ښودني يا نورو موخو په خاطر پدې ټينگار کوي چي بايد له دښمن سره د يوې پرېکنده نښتي له لاري خبره پای ته ورسوو او ستونزه د تل لپاره حل کړو، لدوی نه ځيني بيا پدې خاطر د جگړو خبره کوي چي د خپلو ديني او مذهبی دندو په ادا کولو کي لټی کوي او چي کله پدې اړه پدوی اعتراض وشي نو وايي: که له دښمن سره د نښتی او له دين نه د دفاع وخت راورسېدو نو موږ به ترټولو مخلص ومومی، زموږ په اخلاص او صداقت به هلته پوه شی چي په لومړي خط کي مو توره په لاس او متې بروهلي وگوری!! خو چي د جگړي وخت راورسېږي گوری به چي له خلکو داسي وېرېږي لکه له خدای نه او حتی له خلکو نه به ئې وېره هومره وي چي له خدای نه به دومره نه وېرېږي!!

- بيا به وايي: اوس خو د جگړي مناسب وخت ندی، ضروري وسائل ندی برابر شوي، څه وخت ته ضرورت لرو، بايد جگره وځنډېږي!!

- دوی جگړه او له دښمن سره مخامخ کېدل داسي گڼي لکه د مرگ په لوري چي خوځول کېږي، لکه مرگ چي تيار دوی ته

خپل کومی پرانستی وي او د مرگ نښته ئې رارسېدلې وي!!
وايي به: خدای ولې موږ ته د څه نوري مودی لپاره د ژوندي پاتې کېدو موقع رانکړه او داسي ژر ئې له جګړو سره مخامخ کړو!!

• دې خلکو ته فقط یو ځواب په کار دی،او هغه دا چي: له دنیا سره افراطي مینه مو له مرګ نه وېروي، آخرت مو هېر کړی، دنیا ته په آخرت ترجیح ورکوي، د همدې لپاره له مرګ نه وېرېږي او له جنګ نه ډډه کوي. د الله په عدالت باور نلري، ګمان کوي چي الله به د مسلمانانو هلي ځلي او قربانۍ ضایع کړي، حال دا چي الله د وړی ذرې په اندازه هم په خپلو بندګانو ظلم نکوي.

• په دې پوه شی چي په کور کي ناستی سره او کلکو مورچلو او دنګو کلاګانو ته پناه وړلو سره هم له مرګ نه نشی خلاصېدی، په هر صورت به د مرګ داعی ته لبیك وایي.

• دا کسان داسي دي چي که ستاسو په څنګ کي ئې څه ښیګڼه په برخه شوه نو دا ستاسو د ملګرتیا نتیجه نه بلکي په خپل ځان د خدای پیرزوینه ګڼي، خو که له کومي ستونزی سره

مخامخ شوو نو دا ستاسو له لوري ګڼي، دوی ته ووايي چي ښه او بد ټول د الله له لوري دي، دوی پدې نه پوهېږي چي د ښه او بد، خير او شر، ګټې او تاوان پرېکړه د الله له لوري کېږي.

- هره ښيګڼه د الله پيرزوينه ده، مبادا هغه د خپل عمل نتيجه وګڼی، دا ځکه چي د نيك عمل توفيق هم د الله پيرزوينه ده.
- هر کړاو او ستونزه ستا د بد عمل او ګناه نتيجه ده، له ځان نه پرته بل څوك مه ملامتوه.
- د الله پيغمبر هم د خير او شر واکدار نه بلکي د استاځي په حيث لېږل شوی.
- الله پدې شهادت ورکوي چي خير او شر د ده له لوري دي او ستا په عمل پوري تړلي دي، د ده پيغمبر فقط د يوه امين استاځي دنده تر سره کوي، د خير او شر واك او پرېکړه د ده په اختيار کي نده.

همدا راز په لاندي مبارکو آيتونو کي د هغه چا حالت انځور شوی چي له وخت نه مخکي په جګړې ټينګار کوي، خو

دا ګنهګار ئې له قوي ایمان او د الله په لار کي د قرباني له جذبې نه نه ئې راولاړ شوی بلکي د بیمار زړه نه راخوټېدلی وي، پدې بې وخته ګنهګار سره غواړی چي ځان مخلص او انقلابی وښیی او په خپلو غلطو عملونو او غلطلو ویناوو پرده واچوي او خلکو ته وښیی چي که اوس او د سختی ورځي له رارسېدو نه مخکي هغوی څه قصور لري او په عمل کي تر نورو شاته پاتې دي، د جګړي په ورځ به وګوری چي تر هر چا مخکي یو او په لومړي خط کي د دښمن مقابله کوو، خو چي کله د جګړي اصلي وخت راورسېږي او پدې هکله صریح او واضح فیصله وشي او د قرآن صریح او واضح حکم د هغه غوښتنه وکړي نو دا کسان به داسي ومومی چي سخته وېره به ئې په څېرو کي څرګنده وي، خړی سترګی د هغه چا په څېر چي د مرګ له وېري او هیبته بې هوشه شوی:

| |
|---|
| منافق له جګړي نه مخکي |

وَ يَقُولُ الّذينَ ءَامَنُوا لَوْ لا نُزّلَت سورَةٌ فَإذَا أُنزِلَت سورَةٌ محكَمَةٌ وَ ذُكرَ فيهَا الْقتَالُ رَأَيْت الّذينَ فى قُلُوبهِم مّرَضٌ يَنظرُونَ إلَيْك نَظرَ الْمَغْشىّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ فَأَوْلى لَهُمْ*

منافق له وخت نه مخکي په جګړي ټينګار کوی خو د جګړي په وخت کی ئی د لافو باټو او دروغجنو ادعاګانو حقيقت څرګند شي

طاعَةٌ وَ قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ فَإِذَا عَزَمَ الأَمْرُ فَلَوْ صدَقُوا اللّهَ لَكانَ خَيراً لَّهُمْ

محمد: ۲۰-۲۱

او هغه چي ايمان ئې راوړی وايي: ولې کومه سوره نازل نشوه "چي له دښمن سره د جګړي اجازه ورکړي" خو کله چي پرېکنده سوره نازل شوه او په هغی کي د جګړي يادونه وشوه نو د بيمارو زړونو خاوندان دي ليدل چي ستاسو لوري ته ئې داسي هك پك ليدل لکه د مرګ له هيبته د بې هوشه کس ليدل، دوی ته خو اطاعت او د منلو وړ خبره په کار وه او چي کله د کار پرېکړه وشي که ئې له خدای سره صداقت کړی وی دا ورته غوره وو.

د دې مبارکو آيتونو لاندي لارښووني مزيد غور غواړی:

- ځيني کسان داسي وي چي د جهاد په اړه د قرآن د څرګند حکم غوښتنه کوي او له وخت نه مخکي په جګړي ټينګار کوي.

- خو چي کله د جګړي اصلي وخت راورسېږي او پدې هکله وروستۍ پرېکړه وشي او د قرآن صريح او واضح حکم د هغه غوښتنه وکړي، د دوی او د دوی د لافو باټو او دروغجنو ادعاګانو حقيقت ټولو ته څرګند شي، سخته وېره ئې په څېرو کي راڅرګنده شي، وېره ئې هغه چاته ورته وي چي د مرگ له هيبته بې هوشي ورباندی راغلې وي.
- دوی نه مخکي له خپل رب سره صداقت کړي او نه وروسته.
- دا دوی ته غوره او د دوی په خير وه چي د جګړي د ورځو له رارسېدو نه مخکي او وروسته ئې له خپل مولا سره په خپلو ژمنو صادقانه عمل کړی وی.
- د دې صداقت دوی غوښتني دي: اطاعت او قول معروف.

په بل ځای کي دا مطلب له يوه بل اړخه نه څېړي او وايي:

| | |
|---|---|
| پيغمبران د الله استائي دي | وَ مَا محَمَّدٌ إِلا رَسولٌ قَدْ خَلَت مِن قَبْلِه الرُّسلُ أَفَإِين مَّات أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلى أَعْقَابِكُمْ وَ مَن يَنقَلِب عَلى عَقِبَيْهِ فَلَن يَضرَّ اللَّهَ شيْئاً وَ سيَجْزِى اللَّهُ الشكِرِينَ * وَ مَا كانَ لِنَفْسٍ أَن |

محمد علیه السلام د خدای استاځی دی له ده نه مخکی ډېر پیغمبران په خپل وخت راغلي او تللي،

د هرچا د مړيني لپاره معينه نېټه ټاکل شوې

تَمُوت إلا بِإذْنِ اللّه كتَباً مُّؤَجّلاً وَ مَن يُردْ ثَوَاب الدُّنْيَا نُؤْته منهَا وَ مَن يُردْ ثَوَاب الاَخرَة نُؤْته منهَا وَ سنَجْزى الشكرينَ * وَ كَأيّن مّن نّبىٍّ قَتَلَ مَعَهُ ربّيُّون كَثيرٌ فَمَا وَهَنُوا لمَا أَصابهُمْ فى سبيل اللّه وَ مَا ضعُفُوا وَ مَا اَستَكانُوا وَ اللّهُ يحب الصبرينَ * وَ مَا كانَ قَولَهُمْ إلا أن قَالُوا ربّنَا اغفَرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَ إسرَافَنَا فى أمرنَا وَ ثَبّت أقْدَامَنَا وَ انْصرنَا عَلى الْقَوْم الْكفرينَ * فَئَاتَاهُمُ اللّهُ ثَوَاب الدُّنْيَا وَ حُسنَ ثَوَاب الاَخرَة وَ اللّهُ يحب الْمُحْسنينَ *

آل عمران: ۱۴۴-۱۴۸

او محمد علیه السلام خو فقط يو استاځی دی چي له ده نه مخکي هم ډېر استاځي لېږل شوي وو، نو كه هغه ومري يا ووژل شي، آيا په خپلو پوندو په شا ګرځئ؟! او څوك چي په خپلو پوندو په شا وګرځي خدای ته هيڅ تاوان نشي رسولی او ډېر ژر به الله شاکرانو ته اجر ورکړي. او هيڅ نفس لره نه ښايي چي ومري مګر د الله په اذن سره په ليکل

ډېر پیغمبران راغلي او تللي، د هر یوه په څنګ کی ډېر خدای پالونکي راغونډ شوي او د الله په لار کی ئې جهادونه کړي.

شوې تاکلې نېټې او څوك چې د دنیا اجر غواړی له همدې نه ئې برخه ورکوو او څوك چې د آخرت اجر غواړی له هغه نه ئې برخه ورکوو او ډېر ژر به شکر کوونکو ته غوره بدله ورکړو. او ډېر پیغمبران داسي وو چې ډېر خدای پالونکي ئې په څنګ کي جنګېدلي، خو د الله په لار کي د رسېدلو مصیبتونو په وجه نه سست شول، نه ئې د ضعف احساس وکړ او نه ئې"د دښمن په وړاندې" ذلت ومنلو او داسي صبر کوونکي په خدای ګران وي. او خبره به ئې یوازې دا وه چې ویل به ئې: ای زموږ ربه! زموږ ګناهونه او په خپلو چارو کي زموږ تېری او اسراف راته وبخښې او زموږ قدمونه استواره کړې او پدې کافر ټولګي موږ ته بری راکړې. نو الله دنیوي بدله هم ورکړه او د آخرت غوره بدله هم او خدای داسي محسنین خوښوي.

په دې مبارکو آیتونو کي څو مهم درسونه موږ ته راکړی شوي:

- محمد علیه السلام د نورو پیغبرانو په څېر د خدای د استاځي په حیث ستاسو خوا ته لېږل شوی، دنده ئې دا ده چې د الله پیغام تاسو ته دروړسوي، مبادا د ده د نشتوالي په صورت کي هغه لار پرېږدی چې ده درښودلې، ستاسو معامله له هغه خدای سره ده چې تل ژوندی او ستاسو د کړو وړو شاهد او ناظر دی.
- د هرچا د مړيني لپاره معينه نېټه ټاکل شوې.
- دا خاصه نېټه په خاص کتاب کي ليکل شوې. پداسي کتاب کي چې په هغه کي هيڅ تبديلي نشي راتلی.
- مرګ په همدې ټاکل شوې ليکلې نېټې د الله له اذن او اجازې نه وروسته راځي.
- څوك چې د خپلو عملونو دنيائی بدله غواړی نو الله له هغه نه څه ورکړي او څوك چې د اخروي بدلې په لټه کي وي نو الله ئې له هغه نه ورکړي.
- د خدای شاکر بندګان به ډېر ژر خپل اجر ترلاسه کړي، نه د دوی دنيائی اجر ضايع کېږي او نه اخروي.

- له محمد علیه السلام نه مخکې ډېر پیغمبران راغلي او تللي، د هر یوه په څنګ کې ډېر خدای پالونکي راغونډ شوي او د الله په لار کې ئې جهادونه کړي.
- د دغو پیغمبرانو خدای منونکي ملګري داسې وو چې د خدای په لار کې له مصیبتونو سره د مخامخ کېدو په وجه نه سست شوي، نه ئې د ضعف او ناتوانۍ احساس کړی او نه د دښمن په وړاندې ذلت او سپکاوي ته تسلیم شوي. مبادا تاسو د خدای په لار کې له مصیبتونو سره د مخامخ کېدو په وجه سست شی، شور شوق او جذبه له لاسه ورکړی، د دښمن قوت تاسو ووېروي او د هغه په وړاندې د ضعف او ناتوانۍ احساس وکړی، د دښمن شرائطو ته تسلیم شی او د هغه لوېي ومنې.
- هغوی تکلیفونه ګاللي او په هر حالت کې ئې صبر کړی. مبادا تاسو د معمولي تکلیفونو او مؤقتی ماتو په وجه بې صبري وکړی.
- دوی له ماتو نه وروسته هم ندی مأیوس شوي، ماتی او هزیمتونه ئې د خپلو اشتباهاتو او اسراف نتیجه ګڼلي، له

الله نه ئې د خپلو گناهونو او تېريو معافی غوښتی، سنگر ئې ندی پرېښی او له مبارزی نه ئې لاس ندی اخستی، تل ئې له خپل خدای نه د دښمن په ضد خپلي مبارزی کي د بريا دعا کړې. بايد متوجه وی چي د ايمان تقاضا همدا ده.

- دوی هم دنيوي برياوي ترلاسه کړې او هم ئې د آخرت فلاح او سعادت په برخه شوی.
- دا محسنين دي، د احسان لار همدا ده، دوی د خپلو همدې غوره صفاتو په وجه د خدای د دوستی مستحق شوي، داسي محسنان په خدای گران وي.

په لاندنيو آيتونو کي چي د احد غمجنه ماتې خبري او په هغې کي د ربښتونو مؤمنانو دريځ په گوته کوي، همدا پورتني مطالب له مزيد تفصيل سره پدې الفاظو راغلي:

| د تقوی او احسان معنی | الّذينَ استَجَابُوا للّه وَ الرّسول من بَعْد مَا أَصَابهُمُ الْقَرحُ لِلّذينَ أَحْسنُوا منهُمْ وَ اتّقَواْ أَجْرٌ عَظيمٌ * الّذينَ قَالَ لَهُمُ النّاس إِنّ النّاس قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَناً وَ قَالُوا |
| --- | --- |

حَسبُنَا اللّهُ وَ نعْمَ الْوكيلُ * فَانقَلَبُوا بنعْمَةٍ مّنَ اللّه وَ فَضلٍ لّمْ يَمْسسهُمْ سوءٌ وَ اتّبَعُوا رضْوَنَ اللّهِ وَ اللّهُ ذُو فَضلٍ عَظيمٍ * إنّمَا ذَلكُمُ الشيْطنُ يخَوّف أولِيَاءَهُ فَلا تخَافُوهُمْ وَ خَافُون إن كُنتُم مُّؤْمنِينَ * آل عمران: ۱۷۲ - ۱۷۵

هغه چي د الله او د ده د پيغمبر بلنه ئې پداسي حال کي ومنله چي پرهارونه وررسېدلي وو، لدوی نه چي چا د احسان او تقوا لار غوره کړه، ستر اجر ئې دی، هغه چي خلکو ورته وويل: "د دښمنانو" ډېر خلك درته راغونډ شوي، لدوی نه بايد ووېرېږی، نو دې خبري د دوی ايمان زيات کړ او ويل به ئې: خدای موږ ته کافی دی، ښومره غوره پالونکی، نو د خدای له نعمتونو او پيرزويني سره بيرته راوگرځېدل، پداسي حال کي چي هيڅ تاوان ورونه رسېدو او د خدای په رضاء پسې ولاړل او خدای د لوی فضل خاوند دې. دا خو فقط شيطان وو چي خپل دوستان ئې وېرول، نو له هغوی نه مه وېرېږی، له ما ووېرېږی که

ځوك چي د الله په لار کی ژوبل شوی خو بيا هم د الله او پيغمبر په حکم جهاد ته چمتو شوی او د پرهارونو په وجه له جهاد نه ندی په شا شوی، هغه به ستر اجر ترلاسه کوي.

مؤمنان یاست.

په دې مبارکو آیتونو کې لاندې مهم مهم درسونه راکړل شوي:

- ü هغه کسان چې د الله په لار کې له ژوبلېدو نه وروسته د الله او پیغمبر د حکم د تعمیل لپاره جهاد ته چمتو شوي او پرهارونو دوی د خدای په لار کې له جهاد نه ندی ځنډولي، دوی به ستر اجر ترلاسه کوي.
- ü خو د "احسان" او "تقوی" په شرط، یعنی له ژوبلېدو نه وروسته ئې نه په چا منت بار کړی، نه ئې له چا د تقدیر او تمجید طمع کړې، نه ئې له چا د بدلې غوښتنه کړې او نه ئې داسي څه کړي او ویلي چې نور وځوروي. له جزع، فزع، شکوه او شکایت نه ئې ځان ساتلی او له بې صبري ئې ډډه کړې. پام کوی چې د الله په لار کې زخمي کېدو نه وروسته د" عدم احسان" او "عدم تقوی" په نتیجه کې له "ستر اجر" نه محروم نشي.
- ü د دغو کسانو یو بل صفت دا دی چې د ښمن له زیاتوالي او کثرت نه ندی وېرېدلي، کله چې هغوی ته ویل شوي چې

دښمن په لوی شمېر کي ستاسو په ضد راغونډ شوي، هومره چي لدوی نه وېره په کار ده، دې خبري د دې په ځای چي پدوی کي وېره راولاړه کړي، برعکس د دوی ایمان ئې مزید مضبوط کړی او ویلي ئې دي چي الله موږ ته کافی دی او هغه تر ټولو غوره مولا او وکیل دی.

- د دغه دریځ او وینا په نتیجه کي هغوی په الهي امتحان کي بریالي وګڼل شول، د خدای رضاء ئې ترلاسه کړه، له مزید زحمت او تکلیف نه پرته ئې د الله نعمتونه او پیرزویني په برخه شوي.
- څوك چي مسلمانان د دښمن له ځواکونو نه وېروي د قرآن له نظره "شیطان" دی، د دې شیطان دا وېره اچونکي تبلیغات په هغو کسانو اغېز شیندی چي له شیطان سره ئې دوستی وي، د ده تبلیغات په هغه چا اثر نکوي چي له شیطان سره ئې خپلي اړیکي قطع کړې وي.
- د الله حکم او په الله د ایمان تقاضا دا ده چي د دښمن له زور ځواك نه ونه وېرېږو او وېره مو یوازي له یوه خدای نه وي.

په لاندي آیتونو کي له مرګ نه وېره او له جهاد نه ډډه د

منافق ښنې ګڼل شوې:

قَدْ يَعْلَمُ اللّهُ الْمُعَوّقِينَ منكمْ وَ الْقَائلينَ لاخْوَنهمْ هَلُمّ إلَيْنَا وَ لاَ يَأْتُونَ الْبَأس إلا قَلِيلاً * أشحّةً عَلَيْكُمْ فَإذَا جَاءَ الخَوْف رَأيْتَهُمْ يَنظرُونَ إلَيْك تَدُورُ أعْيُنُهُمْ كالّذى يُغْشى عَلَيْه منَ الْمَوْت فَإذَا ذَهَب الخَوْف سلَقُوكم بألْسنَة حدَاد أشحّةً عَلى الخَيْر أُولَئك لَمْ يُؤمنُوا فَأحْبَطَ اللّهُ أعْمَلَهُمْ وَ كَانَ ذَلك عَلى اللّه يَسِيراً * الاحزاب:۱۸-۱۹

بې شکه چې الله هغه کسان ښه پېژندلي چې خنډ کېږي او خپلو ورونو ته وايي: زموږ لوري ته راشئ او په جګړې کې برخه نه اخلي مګر ډېره کمه، په تاسو باندې "د هرې ښېګڼې" بخل کوونکي، چې کله د وېرې حالت راشي نو دوی به ووينې چې ستا په لوري به داسې ګوري چې سترګې به ئې رغړي، د هغه چا په څېر چې د مرګ له وېرې او هیبت نه بې هوشه شوی، خو

د نفاق څو نښې: له جهاد نه ډډه، د مجاهدينو په ضد تبليغات او پدوی د برې نه پېرزوينه، له مرګ نه وېره، د مال حرص

کله چي د خوف او وېرې حالت ختم شي نو په تېرو ژبو له تاسو سره مخامخ کېږي‌ د مال حریص، دوی ایمان ندی راوړی، نو الله د دوی عملونه حبط کړل او دا کار خدای ته آسانه دی.

دا مبارك آیت چي د جهاد مخالفین ئې معرفي کړي څو مهمو مسئلو ته اشاره کوي:

- الله جل شأنه دوی ښه پیژني، که هرڅومره بهانې وکړي، خلك وغلوي، د خپل ناروا دریځ لپاره غولوونکي دلائل وړاندي کړي، الله جل شأنه هم د دوی عمل معلوم دی هم ئې د زړه کیفیت.
- دوی په عملي جهاد کي برخه نه اخلي مګر ډېر کم او د مجبوریت په وجه.
- خپل ملګري هم له جهاد نه منع کوي.
- په مجاهدینو ئې بری او فتح نه لوربږي.
- د خوف او وېري په حالت کي ئې وضعیت داسي وي لکه مرګ چي په سترګو ګوري او د مرګ هیولا دوی ته خوله خلاصه کړې وي.
- چي د وېري حالت ختم شي نو د خپلو تېرو ژبو توري له تېکي راوباسي او د مجاهدینو په خلاف شدید تبلیغات

پیل کړي.

ü د تبلیغاتو اصلي انگیزه ئې مال او مقام ترلاسه کول وي.

ü دوی ایمان نـدی راوړی، د دوی د ایمـان دعـوی خـدای نـه قبلوي.

ü ټول مخکني ښه عملونه ئې هم الله جل شأنه ختموي. د دغو منافقینو ظاهري نیك عملونه د الله پـه وړاندي هیـڅ قـدر او قیمت نلري.

ü الله ته دا آسانه ده چي د مسلمانانو پـه ضد د دغـو منـافقینو هڅې حبط کړي.

څوك چي له الله نه پرته له بل چا نه وېره او طمع لـري د هغـه په هکله قرآن داسي وایي:

وَ اتخَذُوا مـن دُونـه ءَالهَـةً لا یخلُقُـونَ شـیْئاً وَ هُمْ یخلَقُونَ وَ لا یَمْلكُونَ لأنفُسـهمْ ضراًّ وَ لا نَفْعاً وَ لا یَمْلكُونَ مَوْتاً وَ لا حَیَوةً وَ لا نُشوراً * الفرقان:۳

او له الله نه پرته ئې داسي خدایان ځانته غوره کړل چي نه څه پیدا کولی شي "بر عکس دوی په

پیدایښت، گټه، تاوان، مرگ، ژوند یوازی د الله له لوري دي.

خپله پیدا کړی شوي، نه ځانته د څه ګټې واك او اختیار لري او نه د څه تاوان او نه د مرګ واك لري او نه د ژوند او نه د بیا خورولو.

په دې مبارك آیت کې څو مهمې لارښوونې ګورو:

ü پیدا ایښت، ګټه، تاوان، مرګ، ژوند او بیا خورول یوازې د الله له لوري دي.

ü له خدای نه پرته هر چا ته چې دا کارونه منسوب کړې هغه دې په خدائی نیولی.

ü ځیني خلك داسې څه په خدائی نیسي چې د هیڅ څه د پیدا کولو توان نلري، په خپله پیدا کړی شوي، نه له ځان نه ضرر دفع کولی شي او نه ګټه رسولی شي، نه د مرګ واك لري او نه د ژوند.

په لاندې آیتونو کې به وګوری چې الله جل شأنه د مرګ او ژوند مطلق او یوازنی واکدار معرفی شوی:

إِنَّا نحْنُ نُحْیِ وَ نُمِیت وَ إِلَیْنَا الْمَصِیرُ *
الذاریات: ۴۳
دا خو فقط موږ یو چي ژوندي کول او وژل کوو او زموږ په لوري بیرته راګرزېدل دی.

وَ أَنَّهُ هُوَ أَمَات وَ أَحْیَا * النجم: ۴۴
او دا چي فقط هغه دی چي وژني او ژوند ورکوي.

نحْنُ قَدَّرْنَا بَیْنَکمُ الْمَوْت وَ مَا نحْنُ بِمَسبُوقِینَ *
الواقعه: ۲۰
دا موږ یو چي په تاسو کي مو مرګ ټاکلی او له موږ نه څوك مخکي کېدی نشي.

لَهُ مُلْك السمَوَت وَ الأَرْضِ یحْیِ وَ یُمِیت وَ هُوَ عَلی کلِّ شیْءٍ قَدِیرٌ * الحدید: ۲
د آسمانونو او ځمکي پاچائی ده لره ده، ژوند ورکوي او وژني او هغه په هر څه قادر دی.

د آسمانونو او ځمکي پاچايي الله لره ده، د ژوند او مرګ پرېکړه هغه کوي، هغه په هر کار قادر دی، تاسو لره له ده نه پرته نه کوم مولا او دوست شته او نه کوم مرستندوی.

إِنّ اللّهَ لَهُ مُلْك السمَوَت وَ الأَرْضِ يُحْيِ وَ يُمِيت وَ مَا لَكم مّن دُونِ اللّهِ مِن وَلِيّ وَ لا نَصِيرٍ* التوبه: ۱۱۶

بې شکه چي الله هغه ذات دی چي د آسمانونو او ځمکي پاچائی ده لره ده، ژوند ورکوي او وژني او تاسو لره له ده نه پرته نه کوم مولا او دوست شته او نه کوم مرستندوی.

هُوَ يُحْيِ وَ يُمِيت وَ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ*
يونس: ۵۶

دا خو فقط هغه دی چي ژوندي کول او وژل کوي او د ده په لوري بيرته راګرځول کېږی.

وَ إِنّا لَنَحْنُ نُحْيِ وَ نُمِيت وَ نحْنُ الْوَرِثُونَ*
الحجر: ۲۳

او دا خو فقط موږ يو چي ژوندي کول او وژل کوو او موږ ته هر څه په ميراث پاتې کېږي.

وَ هُوَ الّذِی يحْيِ وَ يُمِيت وَ لَهُ اخْتِلَف الّيْلِ وَ النّهَارِ أَ فَلا تَعْقِلُونَ* المؤمنون: ۸۰

لکه څنګه چي شپه او ورځ د الله په اراده ځي راځي، مرګ ژوند هم د ده په اراده تحقق مومي، ټول به بېرته د خپل پيدا کوونکي خدای په لوري درومي

هغه ذات چي د ځمکي او آسمانونو واکمن دی او شپه ورځ راولي، د ژوند او مرگ پرېکړه هم کوي،

او هغه خو همغه ذات دی چي ژوند ورکوي او وژني او د شپې ورځي يو په بل پسې راتگ ده لره دي، نو آيا تعقل نکوئ.

قُلِ اللّهُ يحْيِيكمْ ثمّ يُميتُكمْ ثمّ يجْمَعُكمْ إِلى يَوْمِ الْقِيَمَةِ لا رَيْب فِيهِ وَ لَكِنّ أَكْثرَ النّاسِ لا يَعْلَمُونَ الجاثية:۲۶

ورته ووايه: دا خو الله دی چي تاسو پيدا کوي، بيا مو وژني، بيا مو د قيامت په هغه ورځ راغونډوي چي هيڅ شك پکي نشته، خو اکثر خلك نه پوهېږي.

لا إِلَهَ إِلا هُوَ يحْىِ وَ يُمِيت رَبُّكمْ وَ رَب ءَابَائكُمُ الأَوّلِينَ* الدخان: ۸

لده نه پرته بل خدای نشته، ژوند ورکوي او وژني، همغه ستاسو پالونکی او ستاسو د لومړنيو پلرونو پالونکی رب.

خوب د مرگ يوه بيلگه ده

اللّهُ يَتَوَفى الأَنفُس حِينَ مَوْتهَا وَ الّتى لَمْ تَمُت فى مَنَامِهَا فَيُمْسِك الّتى قَضى عَلَيهَا الْمَوْت وَ

يُرْسلُ الأُخْرَى إِلى أجَلٍ مُسمًّى إِنّ فى ذَلِك لاَيَتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكّرُونَ *

الزمر:۴۲

الله له ساه لرونکو نه د مرگ په وخت کي ساه اخلي او له هغو چي مړه شوي نه وي د خوب په وخت کي، نو د چا چي د مرگ پريکړه شوې وي ساه ئې له ځان سره ساتی او بله تر ټاکلې نېټې بيرته لېږي، بې شکه چي پدې کي فکر کونکو ته ډيري نښی دي.

خدای هم د مرگ په وخت کی د ساه لرونکو روح قبض کوي او هم ئې د خوب په وخت کي.

دا مبارك آيت څو مهمي لارښووني کوي:

- خوب د مرگ يوه بيلگه ده.
- خدای هم د مرگ په وخت کي د ساه لرونکو روح قبض کوي او هم د خوب په وخت کي.
- که ئې د مرگ پريکړه شوې وي روح ئې ساتل کېږي او بل ته خپله روح تر ټاکلې نېټې بيرته ورگرځوي.
- د فکر خاوندان پدې خبري کي د حقايقو ډيري نښی گوري.

د انسان لومړی پیدایښت له خاورو او پرله پسې پیدایښت ئی له خاورو او د ژوند بېل بېل پړاوونه ئې د الله په اراده

هُوَ الّذی خَلَقَکم مّن تُرَاب ثمّ من نُطفَة ثمّ منْ عَلَقَة ثمّ یخْرجُکُمْ طفْلاً ثمّ لتَبْلُغُوا أشدّکمْ ثُمّ لتَکُونُوا شیُوخاً وَ منکُم مّن یُتَوفی من قَبْلُ وَ لتَبْلُغُوا أجلاً مُسمًّی وَ لَعَلّکمْ تَعْقلُونَ * هُوَ الّذی یُحْیِ وَ یُمیت فَإذَا قَضی أمْراً فَإنّمَا یَقُولُ لَهُ کُن فَیَکُونُ * غافر: ۲۷-۲۸

دی هغه ذات دی چې تاسو ئې له خاورې راپیدا کړی، بیا له نطفې څخه، بیا له علقې څخه، بیا مو د ماشوم په بڼه کې راباسي، بیا مو تر هغه روزنه کوي چې خپل پیاوړتوب ته ورسېږې، بیا تر څو چې بوډا شي او له تاسو نه ځیني لدې نه د مخه په مرګ محکوم شي او"ځیني نور" تر هغه چې ټاکلې نېټې ته ورسېږي او د دې لپاره چې تعقل وکړی. دی خو همغه ذات دی چې ژوند ورکوي او وژني، خو کله چې د کوم کار پرېکړه وکړي نو فقط ورته وايي: وشه، نو کېږي.

پدې مبارکو آیتونو کې دا لاربښووني زموږ پام ځانته اړوي:

- الله جل شأنه د انسان پیدابښت په لومړي سر کي له خاورو پیل کړی او اوس هم د ده نطفه له هغو شیانو راپیدا کوي چي له خاورو جوړېږي، له خاورو پیدا شوې غله او مېوه د انسان په وجود کي د ده په نطفی بدله کړې.
- دا نطفه ورو‌زي، د مور رحم پوري ځوړند شي، مزيد ئې ستر کړي او د مکمل ماشوم په بڼه کي ئې دنیا ته راوباسي، مزيد ئې وپالي او د پیاوړتوب وروستی پړاو ته ئې ورسوي او له هغه ځایه ئې د ضعف پړاو پیل شي او بوډاتوب ته ورسېږي، ځیني په مخکنیو مراحلو کي ومري او ځیني تر ټاکل شوې نېټې ورسېږي.
- د کوم چا په اراده چي تاسو پیدا شوي یاست او د ژوند دا بیل بیل پړاوونه پلي کوی، د مرګ ژوند پرېکړي همدغه ذات کوي.
- یوازي د یوه حکم په صادرولو سره د هر هغه کار د ترسره کېدو لړی پیل کېږي چي ده ئې د ترسره کېدو پرېکړه کړې.
- که د عقل خاوند پدې مقدمې کي تعقل وکړي په ډېرو حقایقو پوهېدی شي.

ځوك چي ژوند او مرگ طبيعت او طبيعی پيښو ته منسوبوي، ناپوه دی او د بې بنسټه گمان په اساس دا خبره کوي:

دهري ځوك دی، او د مرگ ژوند په هكله څه وايي؟

قَالُوا مَا هِیَ إِلا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوت وَ نحْيَا وَ مَا يهْلِكُنَا إِلا الدّهْرُ وَ مَا لهُم بِذَلِك مِنْ عِلْمٍ إِنْ هُمْ إِلا يَظنُّونَ* الجاثيه: ۲۴

وايي: دا خو فقط دنيوي ژوند دی چي مرو او ژوندي کېږو او له دهر نه پرته مو بل څه نه وژني، پداسي حال کي چي پدې هکله هيڅ علم نلري، يوازي گمانونه کوي.

دا مبارك آيت موږ ته وايي:

- ځيني کسان له آخرت نه انکار کوي او مرگ ژوند دهر او طبيعت ته منسوبوي.
- دا کسان ناپوه او له حقيقت نه بې خبره دي.
- د دوی دا تصور او عقيده هيڅ علمي بنسټ نلري، هسي خيال او گمان دی.

قرآن د هغو خلکو په ځواب کي چي د بیا راژوندي کېدو په هکله شك لري وايي:

| |
|---|
| خنگه د بیا ژوندون نه انکار کوی حال دا چي هره شیبه ئې بیلگي گوری |

فَانظُرْ إِلى ءَاثَرِ رَحْمَتِ اللّه كيْفَ يحْيِ الأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا إِنّ ذَلِك لَمُحْيِ الْمَوْتى وَ هُوَ عَلى كلِّ شىْءٍ قَدِيرٌ* الروم: ۵۰

نو د الله د رحمت نښو ته وگوره چي څنگه ځمکه له خپلي مړيني نه وروسته راژوندي کوي، بې شکه چي همدا ذات د مړو راژوندي کوونکی دی او هغه په هر کار برلاسی دی.

دا مبارك آيت له بعثت او بیاژوندي کېدو نه انکار کونکو ته دوه ستر دلائل وړاندي کوي:

- پداسي حال کي چي هره شیبه له مړې خاوري نه د ژوو د پیدا کېدو بیلگي گورې، په یوه باران سره د مړې ځمکي له تل نه رنگ رنگ ژوي سر رااوچت کړي، تا ته ولې له خاورو نه د انسان د بیا راپیدا کولو کار گران بریښي.
- تا نه یوازي د بیا ژوندي کولو بیلگو ته پام ندی کړی بلکي د پیدا کوونکي خدای د قدرت نښو ته دي هم توجه نده

کړې. آیا د ځمکي آسمانونو او دغه ستر او بې انتهاء عالم او پراخ کائنات او د هغه په غېږ کي د بې شمېره مخلوقاتو پیدا کوونکی، پالونکی، ساتونکی او روزونکی رب لدې نه عاجز ګڼې چي انسان بیا راپیدا کړي؟!! مګر پدې خور عالم کي د الله د قدرت بې شمېره نښې ستا لپاره کفایت نکوي چي همدا قدیر خدای د انسان په پیداکولو قادر وګڼې؟!!

همدا راز فرمایي:

مړه به داسي راژوندي کوي لکه مېوې چي راشنې کوي

وَ هُوَ الّذى يُرْسِلُ الرِّيَحَ بُشرَا بَينَ يَدَى رَحْمَتِه حَتى إِذَا أَقَلّت سحَاباً ثِقَالاً سقْنَهُ لِبَلَد مّيّت فَأنزَلْنَا بِه الْمَاءَ فَأَخْرَجْنَا بِه من كلِّ الثّمَرَت كَذَلِك نخْرِجُ الْمَوْتى لَعَلّكُمْ تَذَكرُونَ *

الاعراف: ۵۷

او دی هغه ذات دی چي بادونه د خپل رحمت "باران" نه مخکي د زېري په څېر لېږي، تر هغه چي درنې وربځې اوچتي کړي، د مړه ټاټوبي په لوري ئې وځوځوو، نو په هغه سره اوبه راواوروو او پدې سره ټولي مېوې راشنې کړو، همداراز به

مړي راباسو، امید دی پند واخلئ.
دا مبارك آیت په څو مهمو خبرو تأکید کوي:

- هغه ذات چي د ده په حکم بادونه خوځېږي، وربځي هغو لېږو لېږو سیمو ته انتقالوي چي باران ته اړې او سترگی په لاري دي، په هغوی باران وروي او په همدې باران سره د ځمکي له زړه نه راز راز دانې او مېوې راشنې کوي، همدا ذات به مړي همداسي بیا راژوندي کوي.
- تاسو چي هره ورځ د یوې سیلۍ په ذریعه د بیا ژوندون بیلگي په خپلو سترگو گورې ځنگه د قیامت په ورځ بیا ژوندون درته گران برېښی؟
- د هري سیلۍ نه وروسته د ژوندون د لړۍ پیل کېدل خو باید تاسو ته هره شیبه د قیامت ورځ دریادولی.

قرآن پدې تأکید کوي چي که له یوې خوا په باران سره د مړې ځمکي د بیا بیا راژوندي کېدو ورځنی بهېر د قیامت په ورځ د بیا راژوندي کېدو ښوونه کوي له بلي خوا د انسان مرگ دا خبره ثابتوي چي انسان د یوه داسي ځواك په وړاندي مقهور او محکوم دی چي د مرگ ژوند اصلي واکمن دی، د مرگ ژوند پرېکړي د هغه له لوري دي او انسان طوعاً او کرهاً دې پرېکړو

ته تسليم دی. انسان نه غواړی زوړ شي، د ځوانۍ ځواك او توان له لاسه ورکړي، ضعيف او ناتوانه شي او په پای کي په مرگ محکوم شي، دا څوك دی چي انسان ئې د دغه بهبر په وړاندي بې وسه کړي، دا څوك دی چي د انسان د خوښی او رضا خلاف د د ده د زړښت او مرگ پریکړه کوي او د مرگ په وړاندي غاړه ایښودو ته ئې اړ کوي؟ ستا د مرگ پریکړه همغه ذات کوي چي ته ئې پیدا کړی یې.

ستا مرگ او د مرگ په وړاندي ستا عجز، د الله د شته والي څرگنده نښه

فَلَوْ لا إِذَا بَلَغَتِ الحُلْقُومَ * وَ أَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ * وَ نحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ منكُمْ وَ لَكِن لا تُبْصِرُونَ * فَلَوْ لا إِن كُنتُمْ غَيرَ مَدِينِينَ * تَرْجِعُونَهَا إِن كُنتُمْ صدِقِينَ * الواقعة: ٨٣- ٨٧

نو که داسي نه وي، کله چي "روح" ستوني ته راورسیږي او تاسو هغه وخت په خپلو سترگو گوری او موږ تر تاسو ورته نږدې وو خو تاسو "مو" نه وینی، نو که تاسو محکوم او مقهور نه یاست بیرته ئې وگرځوی که ربښتوني یاست.

په دې مبارکو آیتونو کي لاندي مهمي خبري زموږ مخي ته ایښودل شوې:

- که تاسو د هغه خدای د ارادی په وړاندي مقهور او محکوم نه یاست چي د مرگ او ژوند واکمن دی، نو کله چي ستاسو روح ستوني ته راورسېږي، مړی د نزعی په حالت کي گوری، هڅه مو دا وي چي هغه له مرگ نه وژغوری، خپل ټول توان طاقت په کار وړی، نو که کولی شی دا د وتو په حالت کي روح بیرته وگرځوئ، دا عزیز مو له مرگ نه وژغوری که رښتوني یاست!!
- تاسو چي کله د خپل هغه عزیز خواته راغونډ یاست چي روح ئې د وتو په حال کي وي او دا تمنا کوی چي هغه له مرگ نه وژغورل شي یا کم له کمه څه نور مهلت ورکړی شي، یا ئې دردناك حالت بدل او ساه ئې په آسانۍ ووځي، خو یوه تمنا مو هم نشي ترسره کېدی، فقط د ناهیلۍ او بې وسۍ په حال کي د ده سخت حالت ته حیران حیران گوری، پوه شی چي پدې وخت کي الله جل شأنه همدلته، د ده خواته، تر تاسو هغه ته نږدې او قریب وي.
- که له خدای نه منکر انسان په خپلي غلطي عقیدی کي رښتوني وی او د هغه رب په وړاندي مقهور او محکوم نه وی چي د مرگ ژوند پرېکړه کوي نو د مرگ چاره به ئې کړې

وه او د دغه قاهر ذات پرېکړه به ئې ځنډولې وه.

قرآن وايي چي نه يوازي د مرګ لپاره خاصه تغيير نه منونکې نېټه ټاکل شوې او په خپل وخت راځي بلکي د ځمکي په سر هر مصيبت او د انسان په ژوند کي هره پيښه د الله په اراده او له مخکي نه د ليکل شوې ټاکلې نېټې سره سم راځي:

مصيبتونه تصادفي نه راځي، د هر مصيبت ته ځانګړې ثابته نېټه ټاکل شوې

مَا أصاب مِن مُّصِيبَةٍ فِى الأَرْضِ وَ لا فِى أنفُسِكُمْ إِلا فِى كِتَبٍ مِّن قَبْلِ أن نَّبرَأَهَا إِنّ ذَلك عَلَى اللّهِ يَسِيرٌ * لِّكَيْلاَ تَأْسَواْ عَلى مَا فَاتَكُمْ وَ لا تَفْرَحُواَ بِمَا ءَاتَاكمْ وَ اللّهُ لا يحِب كلّ مخْتَالٍ فَخُورٍ * الحديد: ۲۲-۲۳

نه په ځمکي کي کوم مصيبت واقع کېږي او نه په خپله تاسو کي مګر دا چي په کتاب کي ليکل شوی مخکي لدې چي پيدائی کړو. تر څو په هغه څه مأيوس نشی چي له لاسه ئې ورکوی او په هغه څه چي درکوي ئې بې ځايه خوشحالي ونکړی او خدای هيڅ کبرجن او فخرکوونکی نه خوښوي.

په دې مبارکو آیتونو کي لاندي مهمي توصیې شوې:

- مصیبتونه په خپل سر او تصادفي نه راځي.
- د هر مصیبت لپاره خاصه نېټه ټاکل شوې.
- دا ټاکلې نېټه په داسي کتاب کي لیکل شوې چي له الله نه پرته هیڅوك په هغه کي تصرف نشي کولی.
- د مصیبت د پیدایښت نه د مخه د هغه د واقع کېدو ثابته نېټه لیکل شوې.
- دا کار خدای ته آسانه دی.
- څوك چي پدې حقیقت باور لري، نه پدې مأیوسه کېږي چي د کوم مصیبت په تر خ کي څه له لاسه ورکړي او نه پدې بې ځایه خوشحالي کوي چي څه ترلاسه کړي.
- د مصیبتونو په هکله دا عقیده انسان له دوو کرکجنو خصلتونو: کبر او فخر څخه ژغوري. دا خصلتونه د خدای نه خوښېږي.

له جگړي نه د تښتېدونکو په اړه وایي: دوی خو له خپل

خدای سره ژمنه کړې وه چې دښمن ته به شا نه اړوي او سنگر به دښمن ته نه پرېږدي، خو وتښتېدل، پداسي حال کي چې تېښته نه له مرگ نه دوی ژغورلی شي او نه له وژل کېدو نه:

که خدای تا ته د ضرر اراده کړې وی یا د پیرزویني، نه ئې ته مخنیوی کولی شې او نه دښمن، تېښته او دښمن ته شا کول تا له مرگه نشي ژغورلی

وَ لَقَدْ كانُوا عَهَدُوا اللّهَ من قَبْلُ لا يُوَلُّونَ الأَدبَرَ وَ كانَ عَهْدُ اللّه مَسئُولاً * قُل لّن يَنفَعَكُمُ الْفِرَارُ إن فَرَرْتُم مّنَ الْمَوْت أَوِ الْقَتْلِ وَ إذاً لا تُمَتّعُونَ إلا قَليلاً * قُلْ مَن ذَا الّذى يَعْصمُكم مّنَ اللّه إنْ أَرَادَ بِكُمْ سوءاً أَوْ أَرَادَ بِكمْ رَحْمَةً وَ لا يجِدُونَ لهُم مِّن دُونِ اللّهِ وَلِيًّا وَ لا نَصِيراً *

الاحزاب:۱۵-۱۷

او یقیناً چې دوی له خدای سره ژمنه کړې وه چې شا به نه اړوي، له خدای سره د ژمنو خو پوښتنه کېږي!! ورته ووایه: تېښته تاسو ته هیڅ گټه نشي رسولی، که له مرگ یا له وژل کېدو نه وتښتی او پدې صورت کي خو ډېر لږ برخمن کېدی شي. ورته ووایه: هغه څوك دی چې تاسو له خدای نه وساتی که هغه تاسو ته د کوم کړاو اراده وکړي یا د کومي پیرزویني اراده او دوی خو له الله نه پرته

نه کوم مولا موندلی شی او نه کوم مرستندوی.

په دې مبارکو آیتونو کې څو مهمې لارښوونې زموږ مخې ته ایښودل شوې:

- دښمن ته شا کول او خپله مورچل ورته پرېښودل د هغې ژمنې خلاف کار دی چې هر مسلمان ئې له خپل رب سره لري هغه ژمنه چې په خدای د ایمان او په قرآن د باور غوښتنه ده.
- دا څه عادي ژمنه نده، خدای حتماً د هغې پوښتنه کوي.
- له دښمن نه تېښته او سنګر ورته پرېښودل، نه تا له مرګ نه ژغورلی شي او نه له وژل کېدو نه.
- که فرضاً د تېښتې په نتیجه کې له وژل کېدو نه وژغول شې، ما ته ووایه چې څومره وخت به نور ژوندی وې، چا دا تضمین درکړی؟!!
- آیا داسې څوك او یا داسې کوم تدبیر په نظر درځي چې له خدای څخه دې وساتلی شي؟ که خدای ستا لپاره د کوم ضرر اراده وکړي هغه څوك دی چې د دې ضرر مخه ونیسي؟ او که خدای ستا د برې او فتحې اراده کړې وي هغه څوك دی چې د

دې مانع شي.

- له الله نه پرته نه کوم مولا او چارې سنبالونکی لرې او نه کوم مرستندوی.

په دې هکله په بل ځای کې داسې لولو:

سَيَقُولُ لَكَ الْمُخَلَّفُونَ مِنَ الأَعْرَابِ شَغَلَتْنَا أَمْوَلُنَا وَ أَهْلُونَا فَاستَغْفِرْ لَنَا يَقُولُونَ بِأَلْسِنَتِهِم مَّا لَيْس فى قُلُوبِهِمْ قُلْ فَمَن يَمْلِكُ لَكُم مِّنَ اللَّهِ شَيْئاً إِنْ أَرَادَ بِكُمْ ضراً أَوْ أَرَادَ بِكُمْ نَفْعَا بَلْ كَانَ اللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرَا * بَلْ ظَنَنتُمْ أَن لَّن يَنقَلِبَ الرَّسولُ وَ الْمُؤْمِنُونَ إِلى أَهْلِيهِمْ أَبَداً وَ زُيِّنَ ذَلِكَ فى قُلُوبِكُمْ وَ ظَنَنتُمْ ظَنَّ السوْءِ وَ كنتُمْ قَوْمَا بُوراً * وَ مَن لَّمْ يُؤْمِن بِاللَّهِ وَ رَسولِهِ فَإِنَّا أَعْتَدْنَا لِلْكَفِرِينَ سعِيراً * الفتح: ۱۱-۱۳

د هغو کسانو بهانې چې له جهاد نه ډډه کوي په کور کې ستا شته والی د الله له لوري تاکلی ضرر نشي دفعه کولی

وروسته پاتې کړی شوي کوچیان به هرو مرو وايي: خپل مال او عیال مشغول کړو "په جګړې کې له برخې اخستو نه ئې محروم کړو" په خپله ژبه هغه څه وايي چې په زړه کې ئې نشته، ورته

او نه ستا غیابت د تاکلې ګټې د ځنډېدو باعث کېدی شي

ووایه: نو هغه څوك دی چې له خدای نه تاسو ته د څه واکمن وي، که هغه د ضرر اراده درته وکړي یا د کومې ګټې اراده، داسې نده بلکه خدای ستاسو په کړو وړو ښه خبر دی. بلکه تاسو ګمان وکړ چې پیغمبر او مؤمنان به هیڅکله خپلو خپلوانو ته روغ رمټ راونه ګرځي، دا تصور ستاسو زړونو کې ښایست وموند او بدګماني مو وکړه، بې خیره ډله یاست. او څوك چې په خدای او د ده په رسول ایمان رانه وړي نو موږ دغو کافرانو ته لمبې تیاري کړې.

د دې مبارکو آیتونو هدایات دا دي:

- ستاسو به برې په برخه شي، د دې برې نه وروسته به هغه کسان چې پدې جګړې کې ئې له برخې اخستو نه ډډه کړې وه.، ستاسې خوا ته راځي او په جګړې کې د برخې نه اخستو عذرونه به وړاندې کوي.
- دوی به وایې: مالي مشکلاتو او کورنۍ ستونزو موږ په جګړې کې له برخې اخستو نه محروم کړو. موږ ته له خدای نه

مغفرت وغواړه.

- دا هسې د خولې خبرې دي، نه ئې مالي او كورنۍ ستونزې درلودې او نه په جهاد كې له برخې نه اخستو نه نادم دی او نه له زړه نه د بخښنې او مغفرت تلوسه لري.

- دوی ته ووايه: كه تاسو په خپل كور كې او د خپل مال عيال څارنه كوی او خدای په همدې وخت كې ستاسو لپاره د كوم تاوان اراده وكړې څوك ئې مخنيوی كولی شي او كه تاسو په جهاد كې برخه واخلی او خپل مال او عيال خدای ته حواله كړی او په همدې وخت كې خدای تاسو ته د كومې گټې اراده وكړې څوك ئې مخنيوی كولی شي؟ ستا حضور او غياب د الله كومه پرېكړه بدلولی يا ځنډولی شي؟!!

- خدای ښه پوهېږي چې تاسو څه كول او ستاسو د دغو كړو وړو لاملونه څه وو.

- په حقيقت كې تاسو داسې گمان كولو چې پيغمبر عليه السلام او ملگرې به ئې هيڅكله لدې جگړې نه روغ رمټ خپلو كورنيو ته راونه گرځي، دغه بدگمانې پدې جگړې كې له برخې اخستو نه په شا كړي.

- جهاد ته تلونكي نه بلكي تاسو د تباهی کندی ته په لوېدو وی، ستاسو لار او دریغ د تباهی موجب وو نه د هغو کسانو چي خپل هرڅه ئې خدای ته حواله کړي او د دښمن د مقابلې لپاره د جنگ ميدان ته تللي.
- څوك چي له دښمن سره د مقابلې په حساس پړاو كي، په خدای او پیغمبر باندي د ایمان له غوښتنو سره سم، په جهاد كي برخه وانخلي او هغه څه وکړي چي يوازي له کافر نه ئې انتظار کېدی شي، داسي كافرانو ته خدای د جهنم د اور لمبې تیاري کړې.

وَ ءَاخِرُ دَعْوَانا أنِ الحَمْدُ للّهِ رَب الْعَلَمِينَ